غوره شعرونه

# وخته راستون سه



پروین ملال

1

# وخته راستون سه

شاعره :

پروین ملال

## پښتو ادبي غورځنګ ، کوټه

بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پېژندنه**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | وخته راستون سه |
| شاعره | :: | پروین ملال |
| خپرونکی | :: | پښتو ادبي غورځنګ، کوټه |
| د خپرونو لړ | :: | ۲۵ |
| کمپوزر | :: | حبیب الرحمن تاثیر |
| لومړی چاپ | :: | ۲۰۱۰م کال |
| دویم چاپ | :: | ۲۰۱۱م کال |
| چاپ شمېر | :: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ ځای | :: | لاهور |

2a1



۳

# د غور ځنګ یادښت

په پښتو ادب کې د ښځینو ونډه له لویه سره کمه ده، خو څومره شاعرانې چې لرو هغوی هم د پښتنې دودونو د ځینو بندیزونو له امله د خپل زړه خبرې په شعرونو کې په ډاګه نه سې کولای، د ګوتو په شمېر داسې شاعرانې لرو چې شعر دې یې ښځینه رنګ ولري او د ښځوژوند او احساسات دې پکښې انځور سوي وي.
آغلې پروین ملال هم زموږ دپښتو ژبې ټولنې استازې شاعره ده. چې د اوسنۍ تېرې غمیزې سره سره د بشپړې پښتنې ټولنې په استازیتوب په خپل شعر کې یو انځوریز پیغام لري.شعر یې نه یوازې نوی او له معنوي پلوه ښه شعر دی بلکې په شعرونو کې یې د پښتنو مېرمنو او پېغلو ژوند ، احساسات، مینه او دردونه په ښه ډول انځور کړي دي. ډېر د ویاړ او خوښۍ ځای دی چې پښتو ادبي غور ځنګ د خپلې خور استازې شاعرې پروین ملال شعري ټولګه (وخته راستون سه) د دوه پټکي دوه ټیکري دوې ورځنۍ لمانځغونډې په ویاړ (چې په ۲۰۱۰م کې د رحمت شاه سایل، پیر محمد کاروان، زیتون بانو او پروین ملال په ویاړ جوړه شوې وه) چاپ کړې وه خو وروسته مو ځینو املایې تېروتنو ته پام او ددې استازې پښتنې شاعرې د پیغام تر ټولو پښتنو رسولو په نیامت د بیا چاپولو پرېکړه وکړه او دا چې آغلې خور پروین ملال د پښتو ژبې ټولنې استازې شاعره او لیکواله ده، د ژوند ډېرو ستونزو او کړاوونو ونه کړای شول چې زموږ دغه مینه ناکه شاعره له خپلې مینې، پښتو او پښتنې ټولنې څخه لېرې کړي. په دې ټولګه کې د پروین ملال څه هغه شاعري چې (د خزان طلایي پلونه) نومي کتاب کې راغلې او نوره بیا نوې شاعري ده چې په دې شعري ټولګه کې یو ځای کړل شوې ده. نور نو د شعر د منځپانګې په اړه له څه ویلو څخه ډډه کوو او تاسو ته یې د لوستلو وایو.

د درورۍ په مینه

پښتو ادبي غور ځنګ، کوټه

ډالۍ

د نړۍ ټولو بې وسو ښځو ته!

# خير وكړې يا الهي

له هر لوري غشي اوري
خير وكړې يا الهي
د لمني مو اور پوري
خير وكړې يا الهي

دا پښني يبله خوار ملت ته
د اغزو د صراط لاري
قهر قهر دي ور ګوري
خير وكړې يا الهي

زموږ سپوږمۍ په بام تبجنه
زموږ لمر تندر نيولى
ورځې شپې مو واړه سيوري
خير وكړې يا الهي

پاڼي پاڼي ګل تر ګله
بربڼ توله لپي لپي
په دوعا نجوني سرتوري
خير وكړې يا الهي

زموږ رمي په بيديا تږي
زموږ بچي په کاله وږي
د شپنو شونډي مو سپوري
خير وکړي يا الٰهي

د جوماټ ثنډي مو وچي
د محراب غيږي مو تشي
کونډي بوري مو سرتوري
خير وکړي يا الٰهي

د تاوده تنور تر ثنګه
د اوبو سروبۍ[1] راکړي
توکه دوډۍ په کټو پوري
خير وکړي يا الٰهي

زموږ غنم د زرو جام کړي
زموږ انار خم د خيام کړي
د شاتوت ونې پسوري
خير وکړي يا الٰهي

[1] سروبۍ: وړوکي منګي ته وايي چي په کندهارۍ لهجه کي "کونجۍ" هم ورته وايي.

د جګړو ستړی اولس دی
کور تر کوره کلي تر کلي
د دمې تر سیوري هوري[۲]
خیر وکړې یا الهي

دې ملت ته پوهه ورکړې
دا ملت سره یو بڼ کړې
چې راغونډ سي لور د لوري
خیر وکړې یا الهي

د هر لوري غښتي اوري
خیر وکړې یا الهي
د لمني موا او رپوري
خیر وکړې یا الهي

---

[۲] هوري: هلته

# خواست

زما یقین دی چي ته هر څه وینې
زما باور دی چي ته هر څه اورې
زما جانانه د جهان جانانه
تر تا قربان تر تا واری سم جانه
داسي لېمه راکړه
چي تا ووینم
که داسي نه کېږي زما باداره
داسي احساس خوا راته راکړه ښکلی
چي تا په درک کړم
د تفسیر له بامه
۱۹۹۷-۲-۱۹

# سفر

په الوتکه کي
ځنګ ته ناستي مسافري
رانه وپوښتله ؟
لکه چي څوک دي نسته
داسي يوازي په سفر چي درومې
ما ويل نه!
خو يو وخت داسي نه و
داسي يوازي نه وم
هغه! په داسي سفر ولاړ
چي بيا راستون نه سولو

**یادونه**: زما د خور "ملال" د ناروغۍ د خبر په اورېدو ما دا شعر لیکلی، خو د خپل هجرت په لومړۍ شپه کې خبره سومه چې هغه زه د تل لپاره یوازې پرېښې یم.

# د غم کیسه

غم تـه مـو د غـم کیـسه لا پاتــه ده
شـپې تـه د تـورتم کیـسه لا پاتــه ده
زمـا پـه وچ ګرېـوان پـسرلی رانغـی
سـترګو تـه د نـم کیـسه لا پاتــه ده
دلتـه د "ترنـک؟ څپـو بنـدۍ کړمـه
هلتـه د صـنم کیـسه لا پاتــه ده
یـو بېلتـون د مینـې بـل د مینـې دی
زغمـه! د سـتم کیـسه لا پاتــه ده
نـن د هـاجرې شـونډې بیـا وچـې دي
دښـت تـه د زم زم کیـسه لا پاتــه ده
ژونـد دی تېـروو یـې د اغـزو پـه سـر
دم تـه مـو د دم کیـسه لا پاتــه ده
بیـا د وخـت توپـان سـترګې سـرې کـړې دي
نـوح تـه د بـل چـم کیـسه لا پاتــه ده

کندهار، زوړ ښار د یحیٰی خان کوڅه

۱۳۶۸-۹-۲۱

# غزل

په رخسار چې هوا راسي زه وایم ته یې خو ته نه یې
چې ول ول ګیسو مې وا سي زه وایم ته ځو ته نه یې

چې باران د اینو ګوتې د وریځ تر شال بهر کړي
او برېښنا لکه رڼا سي زه وایم ته یې خو ته نه یې

چې د کسو د غوټو نه ستوري ووزي له حجابه
ټوله شپه ژړا ژړا سي زه وایم ته یې خو ته نه یې

چې سهر په سپین لباس کې زرین تاج په سر کې کښېږدي
لمر د ورځې شهنشاه سي زه وایم ته یې خو ته نه یې

چې پرهر په ځړیکو ځړیکو د نفس په ټال کې کښېني
خیال و درد سره پخلا سي زه وایم ته یې خو ته نه یې

۱۹۹۸-۱۰-۱

کراچۍ

# غزل

بیا د بام تر څوکو څاڅي ستا ښکلا ښکلا خیالونه
لږیږي غېږ کړکۍ ته ورکړه خلاص یې دواړه وزرونه

ستا د غم سره نکاح مې د ازل پا چا لوستلې
راته ګوره ملکه یم راسره دي لښکرونه

د ښو په تنکۍ ملاوو د لېمو په لطیف جسم
څڅکه کړمه بارانونه، څڅکه ورمه ډک سیندونه

جوړ زما د زلفو ول سي چې د ساه عطر دي راسي
د سبا باده خرامه چې پرېشان راوړي مزلونه

د فراق خلوتکده کې تر سحر شپه روښول دي
زما په تورو څڼو کښېږده ډک د ستورو دوه لاسونه

۱۹۹۸-۹-۱۳

کراچۍ

## غزل

د پرهر کسي خمار وړي صراحي دسترګو جام سه
غمه! دې کوڅې ته راسه بدي وکړه او نیکنام سه

د سپوږمۍ ګرېوان پاره سو رڼا لېږدي ستوري رېږدي
د سبا نګارخانو کي اېينه سه اېينه پام سه

دا غزال غزل د حسن رانه ځغلي صحرا راغله
د خرد ګامه توپان سه زولنې يې ګام پر ګام سه

د ښو په څوکو لولو ايتونه د فراق يې
د نيمکښو سترګو غبرګي سپېدې چاودي شپه تمام سه

غوټۍ سپوري شونډې خاندي شبنمونه شهيد سوي
دا غزو په غشو تېر سه د سبا باده! خرام سه

د لبرېزو پيالو نه د شها زلفي خوري که
ساقي تللی دی له ښاره رندانه لکه خيام سه

ست د خړو تورو ورځو په بام توی مازيګر راغلی
خوشه چين لکه "پروين" سه زهره فام لکه مابنام سه

۱۹۹۵-۷-۳۰ کراچۍ

# غزل

تــه یــو ځلــې بیــا راســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو
پرېــشان مــې پــه ســبا ســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو

کچکــول د ســپوږمۍ غــاړه کــې د شــپو زلفــې خــورې دي
راتــوی لــه ثریــا ســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو

لېمــې اییــنې فروشــې او جــوهر جــوهر ځیګــر دي
بــازار کــې مــې بهــا ســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو

کــږې، وږې دي لاري او پېــــې مــــو د اغــــزو دي
همدمــه! رهنمــا ســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو

د زړه پــه پیمانــه کــې ســتا یادونــه څــاڅکې څــاڅکې
دلبــره! ســاقیا ســه ســتا بــلا زمــا پــه ســترګو

۱۹۹۶-۱۲-۲۱

کراچۍ

# اتڼ چي ته!

چیري دی دلدار هغه د رزم نغمه ګر ساقي
هغه اتڼ چي هغه ښاغلی څښور ساقي

هغه چي اتڼ کي په کږه وږه نڅا راځي
هغه چي پیکی پر مخ خپور کي په ادا راځي

چیري دی چي څښې يې پر لر او بر ماښام راوړي
تور په رانجه سرې سترګي ساقي راوړي او جام راوړي

ها چي د تندي پیاله کي ځاځکی مي په خال وهي
ها چي په نیم کښ نظر د شپو ورځو جمال وهي

لاس کي يې د سمال د سرو وریښمو په رپا راسي
سور غاټول له نازه ورته کوږ سي په خندا راسي

خاوره د وطن په مستۍ ښکل کړي پښو ته ترپ ورکړي
داسي د اتڼ د سر سالار سي ډول ته خرپ ورکړي

کوږ لکه لینده سي د ښهو په څوکو سپر مات کي
ټول میدان میوند سي د غلیم پوره لښکر مات کي

تاو سي او راتاو سي د جنت ښکلي هوا راوړي
څوکي د لمن يې د بوډۍ ټال په سما راوړي

واوړي او راواوړي مړوندونه يې ګېډۍ ګېډۍ
ګوتې يې له نازه او له قاره سې کړۍ کړۍ

مات سي او رامات سي لکه څانګه د ښکلا سره
ښکل يې کړي کارتوس اوږې له ښکلې نرۍ ملا سره

داسې دي رادرومي چې ورځ سپينه شپه زري راوړي
تېر تر کوه قاف سي د پري د لاس وښې راوړي

يو قدم و شاته دوه و مخ ته په هنر ورسي
تود په اتڼ رزم کي زمري سي په سنګر ورسي

زړې په ګډا ګډا راګډ لاس کي دسمال ورکړي
سپر لکه پوره سپوږمۍ او توره د هلال ورکړي

نجونو ته تر ملا ژي په ټپو ټپو يې راولي
شرنګ يې د بنګړو سي په نغمو نغمو يې راولي

خوږ لالې د خور سي او جانان د خپلې مينې سي
پړک لاسو ته ورکړي او ارمان د خپلې مينې سي

خدايږو چې لاسونه په دعا داسې دلبر غواړو
هغه د کږو بريتو خاوند لکه خنجر غواړو

۱۹۹۸-۹-۱ کراچۍ

## لو نګینه پر ثنګ ثنګ راواوره

د سیند اوبه د "ورا" سندره بولي
د سپوږمۍ وړانګو د رڼا په ژبه
د ساحلونو د ښکلا قصیده ولوستله
د چنارونو پاڼو
د چا د ګنډ کمیس
د سپین پاولو په شان ورسره
ښکلي اتڼونه سر کړه
ما ښامنۍ وږمې په غېږه کې خپل
د سیند د هغې غاړي
د مست اتڼ مسته سندره راوړي
"لو نګینه پر ثنګ ثنګ راواوره
پر ثنګ راواوره چې دي وشمېرم خالونه
لو نګینه پر ثنګ ثنګ راواوره"
د سیند په هغه غاړه زما د ورور واده دی
شپې ته خو وینې کنه؟
څه بې مثاله ستا شپې دي هلته
زما د پلار د کلا هسک برجونه
د اسمان ستوري په خپل څوکو اخلي
زما د ورور د لاس نکریځي په شپه
د مازیګر سره شفقتونه راوړي
شمله یې هسکه ده تر هسک نښتره
د سپین نرګس په شاني ښکلو جامو کې
لکه زېرى د سبا ځلېږي
مخ ته یې آس ولاړ دی

ښنه په رکاب کې ږدي
بابا پګړۍ کې ورته ګل ټومبي
ښکاري چې درومي او د برکلي نه
ناوې راوړي
د سیند په هغه غاړه
زما د پلار کاله کې ښکلې او رنګینه شپه ده
د سیند په دغه غاړه
په ما بد مرغه شپه ده
سپوږمۍ ته وینې که نه؟
چې زه د دوو قومونو
د تاریخي بدیو
د نسل نسل ځنځیرونه
په وریښمینو ښنو کې څنګه وړمه؟
زه د بدیو بدل
زه د بدۍ قرباني
زه د مېړه زه د خاوند زه د واکدار نارینه
د امر حکم بندۍ
د نسل نسل د مینځتوب انځور
د نسل نسل د کړیو زولنو عروج
زما ژوندون دی د واکدار نارینه
د یوه "نه" په حد کې
د یوه "نه" په پولو
د یوه "نه" تر حکمه
د دغه "نه" د اور باران کې
زه د ورور واده ته نه سمه تلای

## غزل

بیګا مې ستا ذکرونه په بار بار وکړه بیده سوم
لمونځونه د وفا مې تر سهار وکړه بیده سوم

سپین ستوري زما لمن کې د سپوږمیو هار په غاړه
محشر محشر سودا مې په بازار وکړه بیده سوم

ته شاه شاه جهان وې زه ملنګه د جهان سوم
سجده مې ستا په دراو په دربار وکړه بیده سوم

راتوی سوم لکه پرخه د ګلپاڼو د لاسو نه
بوسه د لطافت مې خار په خار وکړه بیده سوم

ستا خیال وو حسن حسن او زه سر تر پا نګاه وم
میله مې په خلوت کې د بهار وکړه بیده سوم

ستا لاس زما په لاس کې او زما سترګې ستا په سترګو
بې تا مې څنګه تا ته د زړه لار وکړه بیده سوم

څوک وایي خیال د چا د چا احساس ته نه سي تللی
ما تولـه شپه لـه تا په سندو بار وکړه بیده سوم

۱۹-۱۲-۱۹۹۷ کراچی

# ویرنه

(د علامه استاد رشاد په ویر کي)

سل لمرونه دي په تور حجاب کي پټ سي
چي زموږ د رشاد په شاني لمر مري

شپه او ستوري دي په پښو کي د ویر پرېوځي
ها زموږ د شپو انوار قمر مري

آسیا دي د ماتم سرود را سر کړي
چي د علم شهنشاه او سمندر مري

لوی افغان به بیا په کومه هستۍ ناز کړي
چي سالار د قافلې مو لکه غر مري

د اشرف البلاد کاڼي به وتي ژاړي
د عرفان په استانه کي ستر هنر مري

د سپېیو زړه چاودلي ساندي وایي
د ارین په سین آباد کي دور ګوهر مري

وړانګي وړانګي څانګي څانګي ځوانیمرګي
چي پاچا د سحرونو روڼ سحر مري

# غزل

د پرهر پاڼي رژېږي پسرليه د غم راسه
سرې غوټۍ د درد تنهاکې د اغزو سره پخلا سه

بارد ترمو تر وو اوښکو د زخمي ښو په سرو رو
داګو درګو د رګرېوان ته منګوټيه په ګډا سه

د جانان جانان ياد ونه مو د زړه په شفق ناست دي
په سجده سه د عشق لمره د ماښام لمونځه روا سه

د سپوږمۍ د سپينو لېچو به د ستورو پيالې واخلو
يه! د شپو کفره ظالمه! راورېږه راپيدا سه

څنګه توی څنګه ټوټي سوو د ځوانۍ په ايينو کې
نه! مو ږ خپله ايينه يو وخته وګوره رڼا سه

د فراق شمر مو پرې کړې د رګونو شنې ښانګې
د "ملال" شهيده خياله زموږ د زړه په کربلا سه

۱۹۹۴-۳-۲
کراچۍ

# غزل

زخمونـــه پـــه خنـــدا دي او دردونـــه پـــه والله
مابښـــام دی تنهـــايي ده او يادونـــه پـــه والله

صـــريرپه غزلونـــو کـــي نفـــس د تـــصويرونو
کاغـــذ ديـــوان دپـــوان تـــوري لفظونـــه پـــه والله

کوڅـــو تـــه د ښـــو مـــو پاچهـــان د او ښـــکو راغلـــل
تختونـــه اننګـــي ســـوه ګرېوانونـــه پـــه والله

دا لمـــر پـــه ســـرکو شـــونډو فاتحـــه د ورځـــي لـــولي
ســـپوږمی پـــه نيمـــه لپـــه ټولـــه غرونـــه پـــه والله

د درک پـــه غـــم خانـــه کـــي پرهرونـــه پـــه حلقـــو ســـوه
ســـماع ســـماع کـــړي څـــيکـــي او دردونـــه پـــه والله

زمـــوږ تـــر دل ابـــاده ســـتا د خيـــال کـــډي راغلـــي
ټـــول د ښـــت کيـــږدی کيـــږدی ســـوا او ښـــارونه پـــه والله

۱۹۹۶-۱۲-۳۰

کراچی

# غزل

په هر قدم د وینو غوړپ کوو له ښاره وځو
لکه شفق پیاله په لاس تل له بازاره وځو

موږ د ایینو جامې په تن له لمره ستوري اخلو
بهیر د سیند یو په وار وار له خپله باره وځو

سايې د زلفو مازیګر ته ما ښامونه لولو
رڼا د مخ سره چي شپه یو له سهاره وځو

یو څه ښایست یو څه ادا یو څه ژړا رانیسو
د غم عنوان یو د خوښیو له کتاره وځو

د غزل شاه ته سجدې په خپلو څانګو کوو
مخ د سپوږمۍ یو د تیارو له ځنګل زاره وځو

۱۲-۱۱-۱۹۹۷

کراچۍ

# لوګره نجلۍ

زه چي سهار زموږ د کلي د ملا
په خواږه بانګ ویښه سم
وی توبه خدایه زړه ناڅاپه راته
وتخنیږي
د دوبي ښکلې ورځ چوغکي
په چوڼ چوڼ پیل کړي
چي یېلې پښې د یخ کاریز په سړو شګو
کښیږدم
بدن مي سر تر نوکه څړیکي وکړي
داسي خوږې داسي پستې څړیکي
لکه زموږ د خان د هسکي کلا په سر وي ناستي
دوی ګو ګو کوتري
د اوبو شړق مي په مخ لاري لاري
زما د لپو کربښي ولولي
د پښو په تلوکي مي روح د لطاف
پاڅوي
بیا د کوټې د چت د تیر د ملا نه
د راځوړند لور لاستی
ونیسمه

زه یم لوګره نجلۍ
بیا و پټو ته ځمه
په نیم کښې مخ باندي به
لو کومه
پرون تر تېر ما ښامه
آن د سپوږمۍ په رڼا یيو کي
ما
لو د غنمو وکړ
پرې سوو وږو يې خوړ
وږم لاره
زړه يې راوتو ساوه
د لور په پړق به مي سیوری د جانان ولیده
لکه سپوږمۍ سپوږمۍ شپې وې
د چنار په اوږو
لکه دعا د جنت
لکه وو بوی د شنو چندڼو
او د تور لونګ
لکه وو شور د سپین پاولو
لکه وو خیال د شهنشاه
یا شهسوار شهزاده
لکه قبوله نکاح
زما تربور
زما جانان
زما و سرته ولاړ

# غزل

ادا یـــې د وختونـــو د بـــازاره ســـره درومـــي
دا غـــم څـــه ظـــاهر بـین ســـو چـــي د داره ســـره درومـــي

ځـــواني یـــو د ریـــښې پـــه څـــهٔ ســـایه مـــاحول کـــي
لمـــر غـــاړه غـــړی کیـــږي د چنـــاره ســـره درومـــي

ســـتا خیـــال لکـــه دوي ســـترګي د بنـــو تـــورو لاســـو کـــي
د ســـتورو جـــوړ میـــزان کـــي د ســـهاره ســـره درومـــي

خـــدای زده چـــي بیـــا بـــه شنه ســـو پـــه فطـــرت کـــي د غنمـــو
زړه چـــاودي اهاړونـــه د بهـــاره ســـره درومـــي

بلبلـــه د نفـــس مـــو د پـــښتنې پـــه پنجـــرو کـــي
پـــه ســـوي نالـــه راســـي د چغـــاره ســـره درومـــي

۱۹۹۶-۱۲-۱۰

کراچی

# کونډه

زما د مړ مېړه د مړيني څلور مياشتي
او لس ورځي تېري
مور مي بېګا راته ويل:
تېزي جامې مه کوه
په حويلۍ کي په لوړ ږغ باندي خبري مه که
شونډي دي وچي ساته
وېښته "څپوله" پرېږده
لار دي راسته وباسه
د ورۀ د چاکه د بهر
چي ننداره ونه کې
پام چېري سترګي په رانجه
چي نه کړې
هغه دي نه دي اورېدلي چانه
"کونډه چي سترګي توروي زړه يې مېړه غواړي"
پرون مي سر له دېواله او چت کړ
خوابني مي وښکنځلم
د خپل ماشوم په لټون
تر دروازې ولاړه مه
لېورۀ په غټو کاڼو وويشتمه
خسر مي ټولو ته اختر لپاره د ښار نه ښکلې

جامې راوړلې
زه چا پرې نه ښودم چې لاس
وروړم
ندرور مي ویل
لالا مي مړ دی ته جامې څه کوې
اوس به اختر، برات، روژه لکه
پر دي تېرېږي
اوس به ماښام زما د کوټې لاټین
په اوښکو بل وي
خسر مي وايي
چې د کونډې ډیوه مړه ښه وي
چېري شیطان يې ننداره ونه کي
چېري د مړ مېړه په ښځه يې تر خوا ور نه سي
مور مي ویل
چې سترګې توري نه کړې
خلګو ویلي داسي
"کونډه چې سترګې توروي زړه يې مېړه غواړي"

# غزل

ادا چې په سرو شونډو سې ګلاب صنم صنم سي
اغزي وي ښخ په زړو کي چې ماښام پرتم پرتم سي

دا شپه لکه سرتوره ساقۍ پښو ته د خم ناسته
د ستورو پيالې واړوي مدهوشه په دم دم سي

سخاوي د سپوږمۍ چې اوښکي راسي ګوهرونه
احساس د وږخ د وږخ په اننګو کرم کرم سي

کلونه د فراق او زموږ ستړي مزلونه
رڼا رڼا سي لاري چې يې خيال همدم همدم سي

خو دي لکه محک په سپينو ګټو کي د خاورو
نقره نقره بازار کي په طلا قدم قدم سي

د زړه په شنه تناکه د چا ياد زرين خوبونه
اسمان سي شنه پياله د لمر بانه ورته خم خم سي

ته ښه يې زما درده د احساس جذبه دي راکړه
پرهر پرهر په شونډو نغمه ګر مرهم مرهم سي

۱۹۹۶-۱۲-۲۴ کراچۍ

مرحوم ننګیال ته!

# لمن وچي وریځي

"سږ کال به هیڅکله سپرلی رانه شي"
اسمان به هم په الماسي خندا وو
په تورو لړو کي رڼا ونه کړي
ځکه وریځي لمن وچي دي باران نه لري
ماښام به څنګه راسي؟
د پیالو ملاوي ماتي
د خمو شونډي غوڅي
د مېخانې ژبه په حلق پرې ده
ساقي شهید زلمی دی
د خپلو وینو په کفن کي تر شفقه درومي
تیارې به هم رانه سي
هغه تیارې چي په کمڅو کي ماشومان زنګوي
هغه تیارې چي اننګو کي ثریا ځلوي
هغه تیارې چي په جبین خال د سپوږمۍ وهي
ځکه تیارو تیارو ته کډه کړې
ټولې تبجني پرتې
د تورو وریځو د تلتک د لاندي
سپیدې به څنګه خاندي؟
زموږ وطن دی هدیرې هدیرې

زموږ کوڅې لکه یتیمي نجوني
او دروازې لکه شهیدي شونډي
پتري نیولي او تړلي د ابد تر حده
پر بام سپېرې سپېرې سیلۍ قابضي
د لمر زرین جام به په څه ځنځیږي
د سرو غنمو سندریز فصلونه
د ژېړو وږو طلایي پیغلتوب
ذرې ذرې د ډاګ په څېري لمن
انبار انبار پروت دی
"سږ کال به هیڅکله باران ونه شي"
ریښې به وچي سي د وچ چنارتر وچو ګوتو
او شنې غوټۍ به په سره بنکلې ژبه
د سپین شبنم سره مجلس ونه کړي
څانګي به هسي سي سرتوري پاته
ځکه د پاڼو لوپټې به پرې سایه ونه کړي
"سږ کال به هیڅکله سپرلی رانه شي"
ځکه وریځي لمن وچې دي باران نه لري.

۱۹۹۸-۵-۶

کراچۍ

د قوسینو فردونه د مرحوم ننګیال د یوه شعر نه اخیستل سوي دي.

# غزل

زړه مې په ښو دلبر صنم تـه ځي
دا شهید شفق رنګین پرتم تـه ځي

تـه د شپو ادا سـه زه اسمان يمه
ستوري په ډېوو د سپوږمۍ چم تـه ځي

څـه کـه د سبا پښې زخمي سوي دي
اوس به په تنها کو پښو سم تـه ځي

پورتـه کـې پلو د غوټۍ ښکلې سو
دا نرم نګهت چي لا عدم تـه ځي

لار د ادراک راکـه حسنه! ستا يم دي
توان د ګوتو ګوره چي قلم تـه ځي

عکس چي يې پرېووت په ايينو د عشق
تاج د سبا غېږي د حرم تـه ځي

۸-۱۰-۱۹۹۵

کراچۍ

# غزل

پانې و اغزو ته دا پرهر کسي لښ سر وزي
یېلې مابنامونه د بنو تر مازیګر وزي

ستا ادا په ستورو کانې مرغلري سوې
شپې مو په لمن کې په قدم تر رونړ سحر وزي

زه سوالګر په نه یم چې دې خیال په سوالو وغواړم
جوړ مې د زړه سرې ستا تصویر د زړه له پر وزي

خوب لکه د شپې خمار د لمر سمندرونو کې
اوړې په بستر کې بوی د شپو یې تر بستر وزي

ته لکه خزان په طلایي قدمو ولاړلې
زه لکه سوړ ژمی تش کالبد مې له دې در وزي

ستا بنکالو سپرلیه څانګې څانګې په رګونو کې
داري د سرو وینو تر پرهر وتر ځیګر وزي

۱۹۹۶-۸-۹

# څوک به دا سي راسي

ستړي مو سوالګري سترګي مات مو کچکولونه دي
ورانې مو کوځې د زلفو مات یې ولونه ولونه دي

توري مو ایینې سوې ایینه ساز مو په مابنام مین
وخت د ده غلام سو او غلام سو په غلام مین

ورک مو د تندي خال په پردیو مالتونو کې
ټیک مو زنګ وهلی په تاخچو او په پوښونو کې

تلې مو پرهر پرهر د تلو پلونه دي
سوي مو ورغوي تېرې څوکي کمرونه دي

شونډي مو دي وچې په اهونو کې مو جل سوزي
خېري مو پوړني په تندي مو پاس اور بل سوزي

لوټ مازیګرونه نه منګي او نه ګودر لرو
سرې ګوتې په وینو نه نکریځې نه اختر لرو

سوری سوری مو لمنې د اغزیو پرې نوکارې دي
خدایه رسېدو ته دي درغلې کومې لارې دي

قار د فرعونانو اسېې راته وژلې دی
سوې د معصوم موسلی په اور د واړه منګولې دي

خوارې مو بلقیسې نه سبا او نه ایینې لرې
سوال کړې زلیخا وې نه محل او نه اسرې لرې

پاڼې د ګلاب مو باروتونو مروړلې دي
پرخې ځوانیمرګې او شهیدې مو بلبلې دي

غوږ مو د چنارو په فولادو مړوندونه دي
پرې مو د انارو سرې منګولې شنه لاسونه دي

ورځې داسې ورځې چې مو شپې ځینې بېزارې دي
شپې مو داسې شپې چې هم قاتلې هم خونکارې دي

فتح به څوک راوړي زرغونې مو بورې سوې دي
څېرې ګرېوانونه پښتنې مو بورې سوې دي

چېرې دي ملالې چې زلمیو ته مو ننګ راوړي
تشو مړوندو ته مو بنګړې راوړي او شرنګ راوړي

څوک به دا سي راسي؟ چي د ورک یوسف خبر راوړي
بوی یې د ګرابوان سي د نګهت په څېر وزر راوړي

موږ چي پسې درومو نو دا ګاري د ګل پاڼي سي
مات سي دالوی غرونه د لعلونو کاڼي سي

مستي مو وږمې سي د سپرلي په دیدن والوزي
مست مو پسرلي سي لکه مشک په ختن والوزي

څوک به دا سي راسي چي ادم په خندا راولي
خوا ته یې رباب او دورخانۍ په موسکا راولي

چتر د انګورو مو موج خېزه لکه غرونه سي
ځانګي یې ساقیاني او په لاس کي ډک جامونه سي

شپه مو راته ناوې کړي شاهومو د سبا په شان
ورځو ته دریې ورکړي جوپې راسي د ورا په شان

لومو د غنمو هم سپوږمۍ او هم لمرونه سي
لور مو هلالي سي د سرو زرو درمندونه سي

وریځي مو سخي سي او اغزو ته پېڼې واغوندي
لاس د باران راسي او لمبو ته پېڼې واغوندي

خړو پستو مځکو ته برېښنا د نور شراب راوړي
برالبې غروري غروري سي او پوڅو ته شباب راوړي

پورته کي بانه تياري په غېږ کي ثريا راسي
څوڅي د شپې ول ول په رخسار د اوښکو بيا راسي

څوک به داسي راسي چي غليم نه ولجه ډال راوړي
سرې عقابي سترګي وکلات ته د "سيدال" راوړي

پلني مو رمې لکه وريځې په اسمان راسي
بوی د شيدو مست لکه وحشت په بيابان راسي

مراندي د کيږدیو غېږي ډکي کړي د ګلونه
يا پلو نيم کښ د کيږدۍ خوی واخلي د نجونو نه

زړکي د غزل به مو د طور ځيني نغمې راوړي
ژوند د تحير به د شيراز په هديرې راوړي

محترم ورور پير محمد کاروان ته اهدا

۲۵-۷-۱۹۹۶

کراچی

# دویم واده

که راته و بخښې ټول ستوري
د لمرو په شاني
او او به راکړې د سپوږمۍ د چینو
جامې مې جوړې د حریر او شبنم
شونډو ته رنګ د مرجان
د سترګو تور مې وي د یو زرو شپو
لاس ته باهو د هالي
شور د ګنګرو د جنتي سندرو
مخ ته رڼا د نور د غره ځیني
د غاړې هار مې د بوډۍ له ټاله
د غوږ لښتۍ مې د پروین او د زهرې د څوکو
که راته وبخښي عدن ټول له غلمانو سره
تندي ته جام د کوثري پیالو
بستر مې جوړ وي د فردوس له اووه رنګه وریښم
تلتک د خوب او د نرمۍ د بناره
بالښت د ناز او لطافته ځیني
پالنګ مې وي د سرو یاقوتو خرمن
د خونې چت مې سکندر د ایینو تصویر

پر دې د وړانګو او څپو کليمې
که راته وبخښې محل د تاج محلونه جوړ
د فوارو د تن يې سپيني چينې د الماسي ځلونو
ګلان د ميني طراوت سمبول
د ونو پاڼې زمردې خوبونه
لارې پل لارې يې د سرو او سپينو
چمن چمن وانبه يې ښکلې د جانان د خياله
هسک هسک برجونه يې د جنت منارې
اسمان تمبرې يې لاجوردې کانونه
زه به دې ټولو باندې څه وکړمه؟
زه به دې ټولو ته تفسير څنګه سم؟
د دغه ټولو د بلوغ حسن به څوک وستايي
زما د هستۍ زما د ښايست بها به څوک وټاکي؟
زما خاوند زما مېړه زما تفسير د حسن
بېګاه د بل چا په پالنګ ختلی
و ماته نه راګوري
ځکه هغه دويم واده کړی دی

# غزل

لکه شپې مو داسي ورځي لکه ورځي داسي شپې دي
د سپوږمۍ پیاله نسکوره د رڼا مراندي مو پرې دي

یو خمار د اسوېلیو د پرهر شونډي بې واکي
اغزي کومي خواته لاړل؟ خوبولې د ګل پښې دي

سپېرې شونډي د جام سپوري د ازار ګردو نیولي
ساقیان دي خپه سوي فراق جنې میخانې دي

بانه تېټ د چا لمن کي ځنځیري سلسلې راغلې
د سپیدو لاس کې کړۍ دي پایزېبونه زولنې دي

شمعه هسک سر په محفل کي په لمبه ژبه خاموشه
څه د روسوله پتنګه؟ په تریکو دي شبېې دي

سند ریزي توري څوڼي لمر په سرو منګولو اخلي
شپه پر بام توره نجلۍ ده په شفق یې شونډي سرې دي

۱۹۹۶-۵-۱۴

کراچۍ

# غزل

په خندا خندا د اوښکو پرهرونه غزلونه
په ادا ادا د ستورو ګرېوانونه غزلونه

د ښېو په نرۍ ګوتو د سپوږمۍ پیاله مدهوشه
زموږ شپې دي ساقیاني هجرانونه غزلونه

درد څه ښکلی سکندر دی تاج د جم یې په سر ایښی
کوڅه ټوله ایینه ده محلونه غزلونه

زموږ د کلي د انګورو منګوټي نسکور پراته دي
ته د تاک په چتر راسه منزلونه غزلونه

د ایمان مسک احساسونه د بنګړو په شرنګا شرنګ کي
چي لاسونه په سجده وړدو محرابونه غزلونه

ګودر خوب د نجونو ولید زخمي سترګو د نرګس کي
غېږي یې ډکه د لمر څڼي قدمونه غزلونه

چا ویل یوسف راد رومي د ښکالو نګهت یې راغی
زلېخا زلېخا ښارکي کچکولونه غزلونه

۱۹۹۶-۵-۱۷ کراچۍ

# خپلي خورزي "رڼا" ته!

"رڼا" تیاره ده په ما
"رڼا" وستورو ته مي لاس نه رسي
"رڼا" سپوږمۍ مي د کوټې ورته
نظر نه کوي
"رڼا" رڼا مي د ښو سیورو ته
ست نه کوي
لاس دي راوړاندي کړه
ورغوی دي هینداري پلوري
کاته دي ځل بل سحرونه راوړي
زه دي واري سمه له تا
بلا دي واخلم "رڼا"
وجود مي ټوله په تیارو تیارو جامو کي
پټ دی
لږ مي د لمر مخ په رڼاوو باندي
ولمبوه
د خپلو وړانگو پردې
زما د تن جامې کړه

۲۰۰۰-۹-۱۳ پښتونخوا

# غزل

د ګل پاڼي که په سرورو د اغزو په څوکو پل ږدو
د رنګين عذاب نګهت يو د څپو په څوکو پل ږدو

ته د ستورو شهنشاه يې زمونږ شپې دي سوې مينځانې
د سپوږمۍ پياله په شونډو د تيارو په څوکو پل ږدو

د ګرېوان خالي حجرې کې پرهرونه کورنانه سوه
مونږ د سترګو په درشل يو د بڼو په څوکو پل ږدو

تاک د کومي ميخانې نه په شنو لپو شراب وڅکل
چې مونږ کلي د خيام کې د کوزو په څوکو پل ږدو

سره غوټۍ د زړه بېباکه د سبا ګوتي راسپړي
لکه مونږ د تاو په دښته د لمبو په څوکو پل ږدو

د هوا نرم لاسونه او ګوزار د لمر د غشو
مونږ تنها کي يو د پرخي د سپيدو په څوکو پل ږدو

دا د چا خيال سليمان دی چي يې تخت د ذهن په سيوري
هره ورځ چي مونږ وردرومو د ايينو په څوکو پل ږدو

۱۵-۵-۱۹۹۶ کراچۍ

# غزل

ترستورو ښکلې له ځمباره راځي
برساتي شپې له هندوباره راځي

د شونډو څوکې او پيالې د پرهر
شفق په لپو له خونباره راځي

کرم د داد يې د ښو په څوکو
ست د ساقي له انتظاره راځي

د تال نفس کې مو زخمي ښکلونه
لکه بهار چې له بهاره راځي

د تصور عادت د شپو په څنو
اينې اينې سي ترسهاره راځي

تناکې پښې سپوږمۍ سپوږمۍ خويونه
جوپې د پرخې دي له خاره راځي

سيوري د خيال يې خپور د ذهن په غرمو
بوی د وصال يې له پرهاره راځي

د زړه و تخت ته بهرنۍ غمونه
ښکلي مريان دي له بازاره راځي

۱۹۹۶-۷-۲۱ کراچۍ

# غزل

دا به مو ایمان وي د ایمان په لور قدم اخلو
تږي د رڼا یو د جانان په لور قدم اخلو

سیوري د خواهش په دېوالونو غځېدلي وي
موږ لکه شفق د پاس اسمان په لور قدم اخلو

یاد د چا په یاد کې د مهرونو تبسم راوړي
ستوري هوا راوړه کهکشان په لور قدم اخلو

تش دي قفسونه لاهوتي نغمې خاموشې دي
لاس کې کړې اخلو د زندان په لور قدم اخلو

ښکه تنهایي ښکه پرهر ښکه د درد کیسه
چا ته یې تفسیر کړو بس د ځان په لور قدم اخلو

۱۹۹۶-۵-۱۹

کراچۍ

# غزل

په چاودي زړه لکه خرما تر نخلستانه درومو
د روح ریګزار کې د ساه جل یو تر کړوانه درومو

ستا د خیالو یوه ادا چې سوه د ستورو لپې
موږ په تنها کو رخسارونو تر اسمانه درومو

د چا د شونډو تصور دی د ماښام شهنشاه
لکه لمر سوځو په شفق کې له خپل ځانه درومو

د شپې نجلۍ د لمر غېږې د نور ډک خوبونه
دغه به موږ یو چې و طور ته تر جانانه درومو

غم دي پرېشان لکه ښایست دی زما په تورو زلفو
شانه شانه یو لځې پښې تر شبستانه درومو

ستا د خیالو زرین لاسونه زما پرهر اننګې
سم په احساس له بدخشانه تر ایرانه درومو

۱۵-۵-۱۹۹۶

کراچۍ

# ته راته ووايه

بوی يې راځي د نيلوفرلپو کې
لکه د ستورو نقره يې خوبونه
لکه ځواني د ګلاب رنګه بنګه
لکه الماس دانه دانه
چې زموږ تر سترګو څاڅي
او په پردی مځکو ګلان زيږوي

×××

ياد يې راځي لکه د شاتو طلايي کورونه
لکه بنکلونه د لمر
چې د بنو په څوکو يې اخلي
د غاټول د جامه

+++

يا يې راځي لکه سپوږمۍ هاله کې
لکه د نور خوبونه
کله د طور خبري
چې و موسیٰ ته د صبرونو
په صله کې راځي

یا دیې راځي لمن لمن
پلو پلو
ځولۍ ځولۍ
خیالونه

×××

زموږ د کلي نجوني اوس د کراچۍ
په ساحلي شګو کي
د خپل تقدیر ورکې او توري
ایینې لټوي
زموږ د کلي نجوني اوس په خیبري تږو کي
د ماتو ستورو تښې
د بې صبرۍ او بېلتانه په ګرېوانه تک وهي
زموږ د کلي نجوني اوس ایینو ته نه ګوري هیڅ
نه یې په سترګو رانجه
نه یې د تندي په سبا زانګي د لمر ټیکونه
نه یې خندا کي سته دي
د پسرلي خوبونه
ته راته ووایه د ژوند بناپېرۍ!
زموږ د خوښۍ د ناوې
لاسونه چا پرې کړي؟
چي د ډولۍ ځیني یې
د سرو ګلونو په ځای

سره بارانونه د شفق وريږي
زموږ په خاورينو کوڅو
زموږ د تاريخ په تاو وهلو پاڼو
چا د تېرو تورو باران پېرزو کړ؟
چا په اور وو ښتل زموږه
د نيکو قبرونه

×××

ته راته ووايه!
زموږ په کعبه
دا ابرهي لښکر د کومې راغی؟
چې د پيلانو پښو يې
د مرګ تصوير زموږ په ښار کې جوړ کړ
زموږ د وطن انګوري ډکي پيالې
د زهرو چا ډکې کړې؟
چې د باغوان د ماشوم زوی
د ګلو څانګې په خزان رژوي
او د زړې بوډۍ ورېښمينه لوربه
د لحد ګټې په ليلام رانيسي
ته!
راته ووايه...

۷-۷-۱۹۹۳

# صفيې ته!

دلته ښکلې څو شپې دي، ته به درومې زه به درومم
لا مو پاته يو دوې شپې دي، ته به درومې زه به درومم

څه يادونه ته درواخله، څه يادونه به زه واخلم
دا دولت دی دا اسرې دي، ته به درومې زه به درومم

دا سپرلی کابل به د يو چا د خيال ما ښام کړو
مور نه پاتې دا کوڅې دي، ته به درومې زه به درومم

دا څو ورځې به د ستورو، په تله کې تول او ناپ کړو
چې رنګينې هم درنې دي، ته به درومې زه به درومم

زما زخمي زخمي ځيګر کې، ستا د مهر د ساه پلونه
غزل غاړې هنګامې دي، ته به درومې زه به درومم

ته به لاړه زه به څمه، د دې تلو ويرژلي تال ته
د يو راګ دوې مرحلې دي، ته به درومې زه به درومم

اوس چې ته يې اوس چې زه يم، ستوري دا شپې سه
څو مره ښکلې مېلمنې دي، ته به درومې زه به درومم

په کابل کې د ۲۰۰۵ کال په اوړدو کې ښه ډېره موده د صفيه حليم سره وم و به وايم چې د صفيې مېلمنه ومه. د بي بي سي په مېلمه ستون کې کله چې دا لندن ته او زه کراچې ته راستنېدم نو هغه شپېو دا شعر و زېږاوه

# غزل

غمه! نزدې ښه يې د پامه وځو
د ميخانې د احترامه وځو

د تاک لاسونه په دعا غځوو
د خودۍ څاڅکي يو د جامه وځو

د شپې خبري مو د ستورو سره
د لمر نظر يو ستا د ګامه وځو

د زخمو شمېر د غم بازار کي لرو
رنګ د بې رنګ يو د تمامه وځو

جنازې نه يو چې په اوښکو لامبو
پرواز د روح يو د ناکامه وځو

تخت د سبا د زليخا کچکول کي
خواست د يوسف يو د کلامه وځو

۲۸-۷-۱۹۹۳

# غزل

چې درته د اسمان تللي په څوکو د شپېبو یو
ګرېوان د پسرلي کې تصور د بارانو یو

ستا غم ښایست ښایست سو زموږ زړه یې شبستان کړ
څه ستوري د زخمو یو څه تنهاکي په اغزو یو

ایینو ته دې د خیال یو په باران کې رسېدلي
د ګل پاڼي مو ښکل کړې اوس اغزو ته په سجدو یو

دا ستا د غمه جوړ سور مائیګر دی لړ. راګوره
د وخت تللي سهاره څه شفق د ننداره یو

چینې چینې چینې یو د بېلتون او ښکي شېبې یو
کتار کتار منګي یو او ساقي د ګودرو یو

ته پرخه د سبا سوې او د لمر له ښو توی سوې
موږ د ښت د حوصلې یو ستا د غم قبر په زړه یو

۱۵-۳-۱۹۹۳

پېښور

# غزل

کو څه هغه ده خو صنم نه سته
د زړه پرهر ته مې ملهم نه سته

رانجه ژړېږي د بڼو په څوکو
چې د جانان مې پرې قدم نه سته

کږه وږه لکه د څانګې سومه
سپرلي ويده د وږمو دم نه سته

د شونډو پانې شولې ترمې ترمې
پردي ساقي سره څه غم نه سته

سپوږمۍ غمجنه سوه په بام نه راځي
د ځلېدلو يې پرتم نه سته

۱۵-۵-۱۳۶۷

# غزل

د غم کیسه سومه غزل سوم
د ویر نغمه سومه غزل سوم

چې یې تپوس ته د ګرېوان ورتلمه
کره وره سومه غزل سوم

د غلچکو ستورو د ورلو په نیت
د باران شپه سومه غزل سوم

د ګل د شونډو په ترلې ګرېوان
د ناز ورمه سومه غزل سوم

غاړه غړې چې سم د شنو منګوټو
د ګودر خوله سومه غزل سوم

۱۳-۵-۱۳۶۷

# غزل

پرېږدئ زخمونو باندي خوب راغی
وېښو دردونو باندي خوب راغی

شپه د سپوږمۍ پیالې بېخوده کړله
د هوش جامونو باندي خوب راغی

د غوټۍ شونډې به سپېرې سي پاته
چي بارانونو باندي خوب راغی

د سترګو اوښکي مي په کسو بار سوې
غمه! غمونو باند خوب راغی

بانه يې ټيټ لمن يې ستوري راوړل
په ماښامونو باندي خوب راغی

سپېدې زړې سوې لمر ورونه کتل
په سحرونو باندي خوب راغی

۱۳۶۷-۲-۱۳

# غزل

ښکلو مه بـه دي پلو نـه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه
فرشـوم د زلفـو ولو نـه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه

د کـوثر جـام جوړو مـه د ې سـترګو د چینـو نـه
درتـه سـاز بـه کـړم سوزونه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه

سـتا و سـترګو خمـارو تـه د جنـت رنګینـی څـه دي
جوړو و مـه فرد وسـونه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه

د پلـو پـه هـر پلـو کـې ټولـوم د زړه ټـوټې مـې
سـتا و مـخ تـه وړم لالونـه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه

د هجـران پـه وینـو ډکـه مـې لمـن د کـربلا سـوه
حسـيني ږدمـه خالونـه کـه بیـا راسـې دې کـوځې تـه

۱۳٦٦-۱-۲۰

# غزل

بېګا مې زړه څه شاني ګيلې تلې او راتلې
د ژبې په سر ماتې څو جملې تلې او راتلې

د اوښکو سلسلې مې ستا په سترګو کې تصوير
په ژوند به مې نو ګوره څهٔ شپې تلې او راتلې

خوږې هيلې نا هيلې سوې په خوږ زړه کې ويدې
د ذهن په پردو کې څه ترخې تلې او راتلې

د ناز د اننګو ګلان تالا کړه سيلابونو
ګرېوان باندې د ستورو جنازې تلې او راتلې

د زلفو فرش مې جوړ کړلو د خيال په اسمانو کې
په هغه لاره باندې چې ستا پښې تلې او راتلې

وعده په وعده پوره و د يادونو په غوغا کې
سبا ته د وختونو اشارې تلې او راتلې

ملال د هر کاته مې د ساحل لاره کړه ورکه
ارمان د سيند په غېږ کې پرې څپې تلې او راتلې

۲۳-۷-۱۳۶۴

# لنډه موسکا

کاشکي مې احساس دو مره یاري
راسره وکړای سي
وژاړم له درده بې دردي ته
په غوغا سمه

×××

ټوله ورځ مې سترګې
یوه څاڅکي ته په لاره وي
شپه راغله خونده
په امید د بل سبا سمه

×××

اوس یې د هجران هره کړه
زما عادت سوله
دا بد مرغي راغله
چې د اوښکو به جدا سمه

×××

چاته انتظار کړم
کومې مینې په لټون سمه
چاته بانه تېت کړم
د کوم دېد په تماشه سمه

×××

څه ته شونډي وسپړم
ژړا خوراته قاره سوه
لاره راته ونښیه
چي څه ته په خندا سمه

×××

نه نه داهم نه کېږي
پېرې پېرې مې وژړل
پرخو شونډي ونيوې
نه دې او نه ها سومه

×××

اوس نو ددې دوو
ورانو فکرو او حالتو منځ کي
دومره هاند به وکړم
چي د غم لنډه موسکا سمه

۱۳۶۰-۸-۱۸
شیرشاه مینه

# د خوشحالو شاپیرۍ ته!

ای د انسان د خوشحالو شاپیرۍ
ماته د دوو شونډو موسکا راکړه
چې مې تیاره نړۍ پرې بیا رونه سي
د ډیوو سترګو یې رڼا راکړه
د هغه سترګو چې په هر کاته کې
ماته د مینې پیغامونه ګرځي
د هغه سترګو چې په هر یورپ کې
د تواضع ډک سلامونه ګرځي
د هغه سترګو چې په هر یو رنګ کې
د ښایسته ژوند زینتونه ګرځي
ای د انسان د خوشحالو شاپیرۍ
ماته د دوو شونډو موسکا راکړه
چې مې تیاره نړۍ پرې بیا رونه سي
د ډیوو سترګو یې رڼا راکړه

د هغه سترګو چې په چوپه خوله کې
د احساساتو غلبلې پرتې دي
د هغه سترګو چې په اوښکو کې یې
د پسرلیو سلسلې پرتې دي
د هغو سترګو چې په لنډ کتو کې
د خمارونو پېې مانې پرتې دي
د هغه سترګو چې خوب وړلو کې یې
د حیاتونو توري شپې پرتې دي
د هغه سترګو چې لیدلو کې یې
زما و سترګو ته بهانې پرتې دي
د لېرو لېرو نه یې بیا راکړه
د سترګکو نه یې ځلا راکړه
ای د انسان د خوشحالو شاپېرۍ
ماته د دوو شونډو موسکا راکړه

۱۳۶۱-۱-۱۹
انصاري واټ، کابل

# غزل

وګوره زخمو مې داغزو په سرو خندل
روح ماشوم ماشوم مې د سلګو په سرو خندل

اوښکو ته مې ګوره زما د سترګو پروا مه کوه
دې تروو اوبو مې د جامو په سرو خندل

عکس د سپوږمۍ چې مې په سترګو یاد تصویر کړلو
دې ښکلو خیالو مې د بامو په سرو خندل

شپه ده او یو سیوری زه په مینه ورته ګورمه
دغو تماشو د جنتو په سرو خندل

زه ترینه چاپیره سوم بلا مې په سر واخیسته
شمع سوم لوګو مې د لمبو په سرو خندل

ما د خوب څپو کې د اسمان څنډې راښکل کړلې
بیا مې عرش د مینې د سجدو په سرو خندل

شونډې مې صهبا کې د څپو غاړه غړې سولې
څاڅکو څڅېدو کې د غمو په سرو خندل

١٨-٢-١٣٦٦

# د یو چا اتلسم تلین ته

دا ته څه وې چې تر هر څهٔ راته ګران سوې
ته مې ژوند وې ته مې مرګ ته مې ایمان سوې

لکه بوی د غوټۍ شوګلو کي بیده سوې
لکه پانه اوبو یو وړلې داستان سوې
ستا د ښکلا ښکلا خیالونه مي ټولواک سو
زه دي منیځه ته پاچا، پاچا جانان سوې
د رباب د ویده تار هېره سندره
څه پر هر سوې څه د څپکو دردستان سوې
مازیګر وې چې د لمره سره ولاړې
د سحر په لاس کي ستوری د اسمان سوې
دل آباده! ستا له یاده ستا له یاده
شا جهانه جان جانانه یادستان سوې
د وجود پرهر پرهر کي مي ژوندی سوې
د نفس په هر اهنګ کي مي بیان سوې
په شپېلۍ شپېلۍ غزل کي مي فریاد سوې
د غزل غزل احساس مي نیستان سوې

دا ته څه وې چې تر هر څه راته ګران سوی
ته مي ژوند وې ته مي مرګ ته مي ایمان سوې

# غزل

دا چې په اوښکو مې ګلان کرمه
د کلو زخم ته درمان کرمه

د زړه بېديا په اهار ترازې ترازې
د لمرو څانګو ته باران کرمه

لکه نفس چې يې تهر ښکلوم
مينه په زړه کې د جانان کرمه

د خيال پوړني کې ګلونه وړمه
خزانه! تا کې خپل ارمان کرمه

لکه چې خاوري په بڼوېې ځانګم
په هر نظر کې يې خپل ځان کرمه

۱۳٦٦-۲-۲۸

بې ژړا مې کسي سوځي په لېمو کې
د اوبو زا یده پا یي په اوبو کې
(حمید مومند)

## غزل

خط د شونډو چې تصویر سو په لېمو کې
ماښام ګډ سو د شفق په ایینو کې

چې د ستورو په لار نه تلې مغرور خیال مې
زړه مې وریت سو اوس د ښکلي یار په پښو کې

کنعاني مینې کچکول په لاس کې راکړ
زلیخا سومه د مصر په کوڅو کې

د دلدار او د اغیار کوڅه یوه سوه
د یو ګل خندا پنډه ونو د اغزو کې

په نیمکښو سترګو بار د اوښکو وړمه
لکه پرخه د سپېدو په اننګو کې

په پردو کې لکه شپه مې هر څه تاو کړل
پښتنه یم، پښتو وسوم پښتنو کې

د سکندر د اییني نوم به اوس نه و
که کتلای جا شلېدلو ګرېوانو کې

۵-۵-۱۳٦٦

مرحومي مستوره شال ته!

# زخمي بلبله

چېري ولاړه څه په وسوه شپه غزله ورځ بولله
د باګرام نه خپه سوې د کونړ زخمي بلبله

لېونۍ د حسن او شعر د اداستان په مينه مسته
بې پروا د زر او زوره د يزدان په مينه مسته

تصورېې هسک ترڅوکو غرونه غرونه يې فکرونه
رواني يې د کلام وه د اوبو نرم مزلونه

حسرت زاره زړه پرهاره نرګس جسمه لاله رويه
سرېې هسک په خار اباد کي مسکه مسکه ګلاب خويه

در ګوهر يې غزل حوره د قلم نوکه يې توره
د جهان په مخ څرګنده په پردو کي وه مستوره

او ښکي زما ورپسې ستوري د ګرېوان په اسمان اوري
زه د "سيند[3]" په غاړه ناسته دا به ځي د "شال[4]" په لوري

په وږمو يې ورجارو کړئ په ښايست يې کړئ ګل چمې
جنازه يې چي پرې د رومي هغه د ښتي هغه سيمې

---

[3]سيند: کراچۍ
[4]شال: د مرحومي د کلي نوم

## غزل

چې یې د خیال رنګین ماښام په سر د بام تویوو
ټوله اسمان د ستورو ځان په یوه جام پویوو

د لمر بانه تر زړه ختلي د شفق نظریو
رڼا د زخم مازیګر په هر ماښام تویوو

عرش دې د مینې او وفا یو تیټ نظر ېنه یو
دا په محراب د ګرېوانه د سجدو پام تویوو

د ښو جاله کې سپاره د ژوند سفر لنډوو
پښې د اوښکو مو په پښو دې ګام پر ګام تویوو

د رنګ بازار کې د وخت حسن خال په وینو ایښی
جوهر د وینو ایینو ته د ناکام تویوو

د غزل اوښکې پاکوو د ګل د پاڼو په لاس
د ګلبڼ وریو چې وفا یې په کلام تویوو

شراب د عقل پخوو په لپو اور را اخلو
عطر د اور د څښو پښو ته د خیام تویوو

# غزل

یوه ورځ به پاهي توی هوا به راسي
د هستی په غم خانه کي به غوغا سي

د شنو څانګو مړوندونه به خالي سي
د نګهت د جنازي لمونځ به روا سي

د سپين آس مسته شنها به جلال راوړي
د روحونو ورا به زمور کلي ته راسي

شپه به توري څټي وڅنډي له بامه
د يو چا توري ليمي به په ژړا سي

څوک به تنده د ساحل څپو ته راوړي
زرين لمر به تږی، تږی په خندا سي

د شنه باغ د سره ګلاب کيسه به سر سي
د بېلتون او د ارمان کتاب به وا سي

د غه ژوند به د سقراط په جام مېلمه سي
نوی خوان نوی مېزبان به هوېدا سي

څو تبجن ستوري به پرېوځي په بستر کي
د پروين په اسمانو کي به تنا سي

# غزل

تمې دي شپې د انتظار تمې دي
ړندې شپې پر سر د دار تمې دي

څه خزانونه دي سپرلي نه لري
د خيال وږمې په کندهار تمې دي

د يعقوب ستر گو ته رڼا نه راځي
سپينې روېبارې د سهار تمې دي

سپوږمۍ تبجنه ستوري نه موسېږي
وچې وريځې په کرار تمې دي

پرهر د اوښکو مې کوڅې کوڅې سو
په زړه کې وينې په انګار تمې دي

۱۳۶۸-۸-۲۵
کندهار نوی ښار

# غزل

کومو کعبو ته مخ ور واوړمه
د چا کوڅو ته مخ ور واړومه

سومه یو څاڅکی د توپان د غیږي
وکومو غرو ته مخ ور واړومه

ستوري په ما سپوږمۍ په ما وخاندي
چي ودې شپو ته مخ ور واړومه

پکښي لوبیږي نازنین خیالونه
که ګرېوانو ته مخ ور واړومه

ماشوم غمونه مي د زړه بېلوي
چي ونشو ته مخ ور واړومه

لکه غنم په ځوانۍ ماته سمه
چي سروغرمو ته مخ ور واړومه

۲۰-۱۲-۱۳۶۷

# وخته راستون سه

وخته راستون سه
چي د تورو شپو په تور پوړني
د سپوږمۍ څاڅکي
لا تر اوسه او د رېدلي نه دي
لا سره ورکو د اسمان په لاجوردي ټټر کي
د سپينو ستورو ګلالۍ خندا ته
خوږو کتو کي لا خواږه کتلي نه دي

×××

وخته راستون سه
چي د چا په زړه ختلي لمر کي
لا پسرلي د نامرادو هيلو
د دروغجن تصوير په شاني
راشين سوی نه دی
او د ځوانۍ ملال ملال کاته يې
چي د بڼو د تورو شپو په غېږ کي
لا ويده سوي نه دي

×××

وخته راستون سه
چې د چا په تار پېیلي نظر
د یوه ماشوم د یوه کوچنې په شانې
د چا معصوم ملال کاته لا ځنګېدلي نه دي
او یا یې د سترګو زینتي پیالو کې
د تمنا په لپو
شراب د مینې
ورشیندلي نه دي

×××

وخته راستون سه
چې کیسه د ګرېوان نیمه پاته
لا د کنعان په لارو
د مصر ستړی کاروان
د سارا شګې ښکلوي په پلونو
او د یعقوب (ع) د تمنا تلوسې
په رېږدېدلو لاسو
د قاصدانو د راتلو زېری
په زړه ټوکوي
وخته راستون سه
او راستون سه وخته

۱۳۶۹-۲-۳

# غزل

غم به دا ونبکو په ګوهر رانیسو
لکه سحر ورځ به په لمر رانیسو

ادا د ستورو به خیرات کوو رته
شپه د بیلتون به په قمر رانیسو

د وخت سیلۍ او تنهایي د زغم به
په حوصلو لکه د غر رانیسو

ایمان به کښېږدو د ایمان پر تله
بېړۍ د نوح به په لنګر رانیسو

لار د منزل به په بنو ووهو
د یار کوڅه به په نظر رانیسو

بار د سبا به په شبنم کښېږدو
بیا به ایینه د سکندر رانیسو

۱۶ جولایي کال ۱۹۹۲

# غزل

هم يې بېلتون هم به يې غم تېروو
په يوه زړه به تهول ستم تېروو

ستوري که مات سوله لمن به نيسو
احسان د خاورو په خپل زغم تېروو

ذبحه به ورکو د ايمان چړې ته
طواف د زړه به په حرم تېروو

سينه به کاهي کړو د وخت څپو ته
دم د ژوندون به په هر دم تېروو

لکه بېديا د يوه ګل لپاره
تهپ د هزار زخمو به سم تېروو

لمن د غره به سونه لوړې څوکې
قدم د ګتهو بې کرم تېروو

تهوله دنيا به په سبا خپله کړو
لکه لمر شپې به په تورتم تېروو

۱۰ اکتوبر ۱۹۹۲ع
کراچی

# غزل

زخم د زړه تولو و خپور نه سي
د بې صبریو مو پېغور نه سي

د فراق شپو ته مو وصال ورکړی
چي د چا پور په موږ داور نه سي

لکه شفق تپ مو په سوال اخیستی
د تیارې ظلم دي نسکور نه سي

د ګلو شونډو ته اغزني څوکي
دا دي په کور دا دي بې کور نه سي

د پېښور او کراچۍ غمونه
چېري چي شپې مو په لاهور نه سي

چا د کنعان قاصد په مصر ولید
د ورک یوسف راتګ دي پور نه سي

۱۵ اکتوبر ۱۹۹۲ ع
کراچۍ

# ستنې

موسم د ميني او ودونو راغی
وږمې سندري سر کړي
نګهت نکاح د ګلو ولوستله
ستوري يو بل ته د رڼا په لېمو لار جوړوي
د اوږده ژمي د تلتک وريځ يې څېري کړله
نريو وړانګو د لمر د بوډۍ ټال کي د رنګونو ټالی ووهلې
زموږ د کور د برنډې په چت
چوغکو کور جوړ کړی
شور د چيچيانو يې د ژوند ترانه وينه کړله
د کلي ټولي رمې لنګې سولې
سپينو شيدو يې د کوچۍ د نغري
څوکي ښکل کړې
د ځوانکي وراره وړوکی زوی مي
اوس په مسجد کي د الف د قد صراط لولي
لور يې ګاونډ ته ناوکۍ ودوي
دا تېره شپه يې د نکريځو شپه وه
زما همزولې غوټۍ سږ کال د مېړه سره و حج ته درومي
زموږ د بزګر د ريمه لور "توريپکۍ"

د خپل خاوند سره په سره بګۍ کي
د ښار مېلو ته ولاړه
د دېوال هغې خوا ته زما د تره کور دی
د الماسي ويالې په خوا کي د شاه توت د زړې ونې لاندي
زما ترله "شېرينو"
د زوی لپاره د شاتوت څانګو کي ښکلې ځانګو جوړوي
پرون د پلار کره په شپو راغلې
زه د دالان په تياره کونج کي ناسته
زما نجليتوب، زما پېغلتوب
د دې دالان تر درشل
د دې دالان په حد کي
نه مي سينګار نه ايينه
نه د پاولو کڼهار
نه د بنګړو شړنګهار
زما د ورځو په محراب کي زما د خال ملا امام
سجده کړي نه ده
زما د باڼو په ګلابي پاڼه کي
يو چا د عشق کيسه ليکلې نه ده
زما د وينښتانو شپې سوې
د سپينو تورو ډ کې
زما د کوڅو کهکشانو نه تر شمار وتلې
سنت او فرض مي دي د نه په حد کي
د تهجد د سجدو او اجر مي په باج کي تللی

لکه زما د ځوانۍ فوج د وخت تاراج کې تللی
زه یم "ستۍ" ستۍ
زه د بابا زه د نیکه د غور نیکه د ستر نیکه
آن تر ادمه پوري
د مځکي زر او پیسو
د بدل پور وړمه
زه د بابا په کاله سپین اوربل
خپور وړمه
زه یم "ستۍ" ستۍ
د ژوند په باب کې
یوه سپینه پاڼه

**یادونه**: ستۍ په کندهار کې هغه نجلۍ ته وایي چې د پلار پر کور زړه سي

# زه لکه ماته څانګه

ته رانه لیري یې لیري
لکه سراب د اوبو نه
لکه الماس د خاورو نه
لکه اسمان د مځکې نه
او ما د خپل زړه په تیاره کوټو کې
د سپوږمۍ په لپو وشنیدلې
د ساه د عطرونو باران مې
درباندې پیرزو کړ
ستا خیال مې د بڼو په نازکو تارونو
د ګرېوان په پړهرونو انځور کړ
یو ښکلی انځور
هغه راته وکتل
او ما د اوښکو باران پرې تویې کړ
ما ورته وژړل چې ته نه یې
زه لکه ماته بیړۍ یم
او یا
لکه مات پارو چې:
د ساحل غاړې ته لاسونه اچوي
خو د څپو امېلونه یې د لاس نه

ښویېږي
ما ورته وژړل
چې ته نه یې زه لکه ماته څانګه
چې:
د سیلیو د قهرجنو څپېړو سره
زګېروي کوي او ژاړي
لکه بې اسرې بوډۍ
لکه یسیر ماشوم
چې:
د مور د ګرېوانه تښې
په خوب کېویني
ما ورته وژړل
او بیا مي هم وژړل
دومره مي وژړل
چې د بېلتون د زهرو جام
لبرېز لبرېز
زما د شونډو غاړه غړۍ سو
او ستا انځور رانه ورک

۱۹۹۴-۱-۱۲

کراچۍ

د ایراني شاعر ذوالقرنین د شعر ژباړه

# د ګلونو په ژبه

ږغ دي د کومي خوا راځي
چي زما خوب
د نیلوفر د نښانه ډک دی؟
د قدمونو ږغ دي
د کوم موسم سره راځي
چي اوس
د واوري ستوري په پټه خوله
د بڼ د چوغکو فتحي ته
د سپین سبا
مبارکي وايي
پلونه په سپېدو کښېږده
او د سبا ګرد وهلو موسمونو ته
لږ راسه
د ګلونو په ژبه خبري وکه
چي ښار
د سپېدو جامې په تن کړي
او، ویښ دی.

# غزل

چې زخمونه مې سپړلي څه ګلونه مې کړلي
پرهرونه مې ګنډلي پرهرونه مې کړلي

راته ګوره شاجهانه! په جهان يم بې جانانه
نه! جانان مې يې جانانه ستا ذکرونه مه کړلي

څونه توان په ګوتو بړدمه دروازه دي شرنګومه
د ورغوو په کچکول کې څو سوالونه مې کړلي

تول وجود ايينه ايينه سوم په محل دي مېلمنه سوم
په لمن کې سپړلي غواړم ګرېوانونه مې کړلي

ثريا يم ثريا يم ستا په بام شپه تر سبا يم
لاس مې ورکړلو سپوږمۍ ته محشرونه مې کړلي

۱۵-۲-۱۹۹۵
کراچۍ

# د اتڼ د سر سرې

در یه زنو ښځو یو بل ته ویله
ته ورګوره زوم خو زښته ښایسته دی
ته وا موریې لمر له ورځو راغلا کړی
ته وا ستوری د سبا غېږ ته ختلی
لوړه ونه یې چنار او جنتونه
تورو سترګو یې څېړلي ماښامونه
د شملې څوکو یې خوب وړی له زاڼو
د جامو ښکالو یې شور کړي د ورابانو
په چغاریې د پڼو زړونه مستېږي
تر قدم لاندي یې مځکه هوسېږي
سباوون یې د "پټو" د کښهاره
وږمې راوړي د سپرلي د ډکه ښاره
د ادم او د درخو د مست کاله دی
چنډني رباب یې پروت پر زنګانه دی
رمهبارتې د رموګهیځ مهار دی
د کرکنډو، وریځو بار وړي سپین سهار دی
د خېمو مراندي منګول ښخ په د ښتونو
د نغرو دودان یې هسک تر اسمانونو
شپو یې شپې دي د رڼا پر بورجل کړي
لا تېنونه یې د سپوږمۍ په لاس بل کړي

د زري او ښو کاروان یې جرس باره
د عربو له د ښتونو دی له آره
په رزمونو یې د "کروړ" خاوري "اوباړي"
د ننګونو یې مغل خوشال "اوجاړي"
سړبني دي غوریاخېل د "غر" غرزي دي
خربدل نه دي له اصله کوچیاني دي
تېره شپه چي ستورو یو بل ته مسله
د سپوږمۍ لمن یې ورو ورو رانیوله
لیکي لیکي پلوشه یې ترې څنډله
دریه زنو ښځو یو بل ته ویله
ته ورګوره زوم خو زښته ښایسته دی
دا ښاغلي دا آغلې شهېلی دي
دا لا څه چي د اتڼ د سر سړی دی

د یوې زړې قلمي نسخې د لوستلو په تاثر کي دا شعر زېږېدلی، په نسخه کي په پټه خزانه کي د ذکر ښځینه شاعري بي بي نېکبختي د زوی شېخ قاسم افغان چي د لوړ ښاخ څوکي یې شېخ متي (رح) ته رسېږي وادہ دی.

اوباړ – شوق، ارمان
اوجاړ – وران، خراب
پټو – څادر
غر – د کسې یا سلیمان غر
خربدل – جټ
شهېلی – د شها مذکر

# غزل

دا فراق لوستلي شپې دي بل څوک نه سته يوه زه يم
د ګرېوان زخمي کوڅې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

ځوان امام بوډا ساقي دی څه رنځوري ميکدې سوې
زندې زلفي د پيالې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

د لېمو په پاڼو راغلې تنګ ماښام اوږده خوبونه
يو څک خيال زرپيمانې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

لمر وتلی له دې ښاره سپوږمۍ نه راځي محل ته
شپې خپه ورځې بېدې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

ستوري مات سول ستوري تور ماښام مسکاوي توري
يوه سايه سل اېينې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

د برسات سيوروکي راغله د اغزيو بارانونه
د هوا تنهاکي پښې دي بل څوک نه سته يوه زه يم

۱۵-۸-۱۹۹۵

کراچۍ

د پروین اعتصامي د شعر ژباړه

# د یتیم او ښکي

یـــو ورځ پاچـــا پــــه لار د کلـــي راغـــی
پـــه بـــامونو پـــه کوڅـــو شـــور او غوغـــا ســـوه

یـــو یتـــیم ماشـــوم پوښـتنه وکـــړه چـــا نـــه
د پاچـــا پـــه تـــاج کـــي څـــهٔ دي؟ چـــي رڼـــا ســـوه
چـــا ځـــواب ورکـــړ زه نـــه پـــوهېږم څـــه دي
داســـي ښـــکاري متـــاع ګرانـــه چـــي ځـــلا ســـوه
بـــوډۍ وړانـــدي ســـوه او داســـي وویلـــه:
دغـــه جـــوړه ســـتا پـــه وینـــو زمـــا ژړا ســـوه
مـــوږ د دې شـــپانه پـــه لـــښته غولېـــدلي
دغـــه شـــرمښ تـــه ټولنـــه نابینـــا ســـوه
فقیـــر غـــل دی چـــي رانیـــسي ملـــک او کلـــی
چـــي پاچـــا مـــال د ملـــت خـــوري نـــو هـــم غـــلا ســـوه
پـــه ژړا د یتیمـــانو نظـــر وکـــړه
د ښـــکاره بـــه ســـي رڼـــا د ګـــوهر دا ســـوه

د رښـــتیا خبـــرو څـــه فایـــده "پروینـــي"
هغـــه څـــوک دي چـــي رښـــتیا یـــې مـــدعا ســـوه

# غزل

دا ورځې دي نه غواړم د ستورو ډک مابښام راکه
خم ته د لمر سور شفق ساقي راکه او جام راکه

ټوله شپه پروین پروین د سیورو په ټالونو کې
مینځم د تیارو څوښي سپوږمۍ هسکه په بام راکه

زه به لېمې فرش کړم، زه به لار په ویښتو جوړه کړم
څرک یې د راتلو د یوه خیال د یوه ګام راکه

شونډې د پرهر خزان وهلې پاڼې پاڼې دي
داسې سپرلی غواړم چې تمام یې ناتمام راکه

سر د نرګس ټیټ د لطافت د ایینو سره
سرلوړ په اغزو کې د ګلاب شاني ګلفام راکه

۱۹۹۶-۱۰-۵

کراچۍ

# غزل

د نفس په پل مو راسه ټول ځيګر پرهر پرهر يو
جام د خياله را رواسه ستا په لور نظر نظر يو

د ښو په شپو کي تلل کړو د رخسار ايينو کي ګورو
د تياره غمه پيدا سو څه ځلا ګوهر ګوهر يو

نه چا وويل چي ځمه نه موږ وويل چي مه ځه
نه په پل د زليخا يو نه يوسف دلبر دلبر يو

شپې رنګيني په هر پل مو په سلګو تر سبا درومو
پښې تنهاکي په سر اور وړو څه رڼا بصر بصر يو

د ډېر غمه لا مړه نه سوو په بېلتون کي ستړي نه سوو
لا د غم ساقي ته ناست يو د پيالو خبر خبر يو

په رکوع د عقل پښو ته ځنځيرونه اخلو پلورو
د صهبا د سر کړي يو هوښيار توبه پر سر سر يو

# غزل

چې درته د اسمان تللي په څوکو د شپېو یو
ګرېوان د پسرلي کي تصور د بارانو یو

ستا غم ښایست ښایست سو زموږ زړه یې شبستان کړ
څه ستوري د زخمو یو څه تنهاکي په اغزو یو

ایینو ته دې د خیال یو په باران کي رسېدلي
د ګل پاڼي مو ښکل کړې اوس اغزو ته په سجدو یو

دا ستا د غمه جوړ سو مازیګر دی لږ راګوره
د وخت تللي سهاره څه شفق د نندارو یو

چیني چیني یو د بېلتون او ښکي شپې یو
کتار کتار منګي یو او ساقي د ګودرو یو

ته پرخه د سبا سوې او د لمر د ښو تویې سوې
موږ دښت د حوصلې یو ستا د غم قبر په زړو یو

# ایمان

یو دی کاروان
بله د کاڼو نقريي صحرا
د څو اوښانو طلايي کتار
په سپينو شګو کي چي پلونه ايږدي
ته واسکې دي د سرو زرو
د سپين زر په ټټر
يو دی کاروان
اوښان يې لنډي لنډي ساوي کاږي
حلقونه وچ
د وچ ګوهي په شاني
څو مسافر ورپسې
شونډي يې وچي د صحرا د وچو ګلو په شان
په يو سفر روان دي
په لوی خطر ور درومي
ناڅاپه ږغ سو لکه تندر خپور سو
د ږغ د ډاره د اوښانو د پښو لاندي کاڼي
سر په غوغا سوه فرياد ونه سوه جګ
د مسافرو چوپتيا
د څو اوښانو رمباړ
چاوې چي څه وسوله؟

یوه شېبه وروسته څرګنده سوه چې
څه به کېږي
غلو په کاروان باندي یرغل راوړی
د چا سره سپین
د چا دینار
د چا جامې ترې اخلي
یو دی کاروان
بله د کاڼو نقریي صحرا
د څو اوښانو طلایي کتار
څو مسافر ورپسې
د غلو د ډلي مشر
یو ژبه کی د کاروان
په خپله ځان ته بولي
ځکه چې ځوان غلو ته
ریښتیا ویلي
ما سره سته دي یو څلوېښت دیناره
مشر پوښتنه کوي:
د کومي راغلې او په کومه درومې؟
ځوان په اوچت ږغ ورته وایي:
زه بغداد ته ځمه
چي د خپل خدای د نازولو سره واوسېږم
ړنا د هغو واخلم
مشر بیا وایي ښه دي، ښه دي
ژر دینار راکړه
ځوان ورته وایي:
زما په لاس کي نه سته

مشر وايي څه؟
تا خو همدا ګړی وېل
ما سره سته ديناره
هلک ځواب ورکړي:
زه خو اوس هم وايمه ما سره سته ديناره
خو زما لاس کي نه سته
زما د لاس لاندي جامه څيري کړئ
زما تخرګ بربنډ کړئ
پکښې پراته دي زما څلوېښت ديناره
يو د کاروان
بل د اوښانو طلايي کتار
څو مسافر ورسره
يو ژبه کی د غلو په وړاندي ولاړ
ځواني يې بوی لري د شنو چندوڼو
د لمر ټيکه يې په تندي باندي ځلېږي او ښکلو نه اخلي
شګي يې پښو د لاندي
په مينه مينه څو پاسته مهين ږغونه کوي
مشر د غلو پر ده ګومان د ټوکي مار کوي
خو چي پرانېزي هاپټ خولي د جامو پرهار
چي نه خبري کوي
او نه ترې خېژي څه شرنګا د دينار
نو ترې راوزي پوره د ژبه کي په قول
ټوله څلوېښت ديناره
د غلو د مشر جوله غونډه حيرانه حيراني زېږوي
لکه اوښان هسي حيران ولاړ
لکه صحرا هسي مبهوته پرته

مشر له ځوان ځیني پوښتنه کوي
ته وې مجبوره له څه؟
موږ ته ریښتیا ووایه
ځوان دی په ډېر غرور سرهسکی ولاړ
لکه د لېږي غره سرهسکه څوکه
سترګې راپورته او ځواب ورکوي:
ما وعده کړې وه دا، د خپلې مور سره
چې زه به هیڅکله درواغ نه وایم
مشر د غلو په ژړا
زه و خپل خدای ته خیانت کومه
او ته د مور سره وفا کوې
ژړا ژړا یې و چې تېږې او بوی د مځکې تل ته درومي
یو دی کاروان
بله د کاڼو نقریي صحرا
د څو اوښانو طلایي کتار
څو مسافر ورسره
او څه د غلو ټولګی
توبې یې کښلې دي په چیغو ژاړې
کاروان او به
اوښان او به صحرا او به او به ده

۱۹۹۸-۹-۱٦　　کراچۍ

# سفر

په الوتکه کي
څنګ ته ناستي مسافري
رانه وپوښتله ؟
لکه چي څوک دي نسته
داسي يوازي په سفر چي درومې
ما ويل نه!
خو يو وخت داسي نه و
داسي يوازي نه وم
هغه! په داسي سفر ولاړ
چي بيا راستون نه سولو